دمقالی لیکوونکی: متیووهو(Matthew Hoh).
منبع او دخپریدو نیټه : کونترپنچ «21-08-2017»
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

---

# په ا فغا نستان کي دامریکی دپرمختک په اړه دروغ

## Lies about American progress in Afghanistan

په افغانستان کی دامریکی د متحده ایالاتو پوځ هیڅ پرمختګ نه دی کړی اود کوم رغنده لاسته راوړني ځبنتن هم نه ده شوی لکه چي اوس دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی قراردادیا نواود مخدره تیوکی علمبردارانوڅخه غوښتل کیږی یعنی زمونږ دمتحدینو څخه چی هغوی دافغانستان ددولت په دننه کی ستروندوه لرونکی لکه دا فغا نستا ن په دولت کی نظا می ملیشا او امنیتی ځواکونه دی چیری چی هلته ځورونی او او ویجاړنی ترسترګو کیږی بل کوم داسی دویاړ ډک لاسته راوړنی څخه یادونه نه کیږی د ا مریکی ستر سیاستوالو ، فرماندهانو اوجنرالانو دامریکی دمتحده ایالاتو د پوځ پر مختګ اودهغوی دغښتلتیا څخه خبری کوی کله چي دبارک اوباما دجمهوری ریاست په پیل یعنی په کال (2009) کی هلته په افغا نستا ن کی (70000) امریکایی سرتیری (30000) اروپا یی سرتیری او تقریباً (100000) نظامی پیمانکاران مستقر وه – اما هغه تریخ اونه په زړه پوری واقیعت چی له هغه څخه سترګی نشو پټولی هغه دادی چی په افغانستان کی له کال (۲۰۰۹) څخه را هیسي جګړه لا پسی ګرم او شدید شو کوم چی بیا له همغه تاریخ څخه په دی جګړه ځېلی هیواد کی ثبات و تیکاو بیا نه دی تر سترګی شوي اود همدی مودي په اوږدو کی دطا لبانو په شمیرکی په لس ګونوزرو زیاتوالی راغلی و دهرکال په تیریدو سره لا پسی ځواکمن شوی دی سره له هغی چی دهغوی زیات شمیر جنګیا لی مړ شوی او زیا ت شمیر نور یی بند یا ن شوی دی او دهمدی جګړی په ترڅ کی دامریکایی اود ا فغا نستا ن دملی اردو زیا ت سرتیری هم خپل ژوند دلاسه ورکړی دی بواځی او بواځی وروسته دکال (۲۰۱۱) څخه کله چی امریکا یا نو خپل زیا ته برخه سرتیری له افغانستان څخه وویستل نودهغود تلفا تو په شمیرکی تیټوالی راغی اما له بل پلوه له همغه تاریخ څخه بیا لاتراوسه دافغانستان دملی اردو زیات سرتیری خپل ژوند د لاسه ورکړ اودهغوی په څنګ کی د افغا نستا ن غیرنظا میا ن په لوړه کچه سره له دی نړی څخه سترګي پټی کړ کوم چی د ملګرو ملتونو په وروستی کلنی ګذارش کی دا فغا نستا ن داردو د سرتیرو اودملکی کسا نو د مړنی احصا یه یا ارقام درسنی لاری څخه نشر ته وسپا رل .

په ورته ډول دافغانستان دبیا رغونی اودپراختیا په هکله کوم چی دامریکی دمتحده ایالاتو ډندوره چیانو ادعا کوی چی دافغانستان په با ز سازی کی تر اوسه پوری (۱۰۰)

ملیارده دالر په مصرف رسیدلی ، اما دتعجب خبره دادی چی په افغانستان کی سره ددی پیسو په مصرف سره دبیارغونی کومه په زړه پوری لاسته راوړنه لا تراوسه پوری نه تر سترګو کیږی اودهمدی اصل په نظر کي نیولو سره لکه هغسی چی په افغانستان کی د متحده ایالاتو د بیا رغوني لپا ره ځا نګړی مفتش (سیګا ر)دیو ډول نارضایتی په توګه سره یادونه کوی چی په افغانستان کی دغه (۱۰۰) ملیاردلګول شی دالری پیسی له هغو پیسو څخه زیاته دی کوم چی مونږ په اروپا کی وروسته د نړیوال جګړی څخه دمارشا ل پروګرام پلی کړ او اروپا مو بیرته ورغول –اما دلته دیادونی مطلب دادی چی



عکاسی: واوید شوب (Dvidshub)

چی دامریکی د متحده ایالاتو اجیر رسنی او ډنډ وره چیانو په مکرر بڼی سره داسی ادعا کوی چی اوس په افغانستان کي په میلیونو نجونی ښونځی ته ځی ، په میلیونو افغا نانو روغتیای وړیا خد متونو ته پوره لاس رسی لری ، په ا فغا نستا ن کی د ژوند توقع په درامتک بڼی سره اوچته شوی ........ حال داچي په ا فغا نستا ن کی د کار د جوړونی اقتصادی جوړښتونه دعا مه خلکو له نظره لاتراوسه هغه څه نه دی چی دهغه په شتون باندی باور وشی ، بلکه داهغه څه دی چي له یو سره دروغ او له حقیقت څخه لیری دی بلکه دا ډول افادی اویا دا ډول څرګند ونی تول ظاهری دی او دا د دی د پاره چی د ژورنا لیستا نواود کا نګرس داستازو د پا ره دغه ډول ملعمه کا ری اوظاهر سا زی وکړی اووضع لکه دعصری پوتمکین دکلی[دیو کلی څخه په غیر واقعی بڼی سره ستا ینه کول دی کوم چی خلک ترتا ثیر لاندی راوړل شی لکه چي **ګریګوری پوتمکین** ددوم **کاترین** دسفر په وخت کي په کا ل «۱۸۷۸» په **کریمه** کي ځنی غیر واقعی تا سیسا ت د **د نیپر** دسیند پر غاړه جوړکړل ترڅو چي هغه په دي ډول سره وغلوی اویا هغه دوکه

کړي ] په ځیرهغوی ته ورونبیی اودهغوی با ور په دی توګه سره ترلاسه کړی ترڅو چی دپنتاګون اودا مریکی د متحده ایالاتو د انکشافی اداری دپاره دهغه ځانګړ کړل شوی استحقاقی بودجی دپاره لاری برابر کړی اوپه دی ډول سره وشی کړلي چی دبیا رغونی دپروګرام تر سرلیک لاندی لاپسی د جګړی لمن دخلکو دوژلو د پاره پراخه کړی لکه چي په عراق کی دهمدی بیارغونی دپروګرام ترعنوان لاندی دخلکو دوژنی لړی لا پسی پراخه کړل ، نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره اوس په افغانستان کی په ډاګه ویلی شو چی دامریکی د بیا رغوني پروګرام په افغانستان کی یوه ناکامه پروژه دی چی تراوسه پوری دهغه کوم رغنده لاسته راوړني نه تر سترګو کیږی لکه هسی چي د«سیګار» له خوا په مستند بڼی سره ځا رنه شوی اوپه ورته بڼی سره په افغانستان کی د ملګروملتونو اود (IMF) اداره هم پخپلو ارزیا بیو او ځیړنو کی د افغا نستا ن دبیا رغوني دپروګرام څخه پوره قناعت نه لری اود هغی څخه سرټکونی کوی او په څرګند ډول سره یادونه کوی چی دلته په افغانستان کی دغه پروژه له سره یو ناکام پروژه دي .

نن شپه دامریکي خلک په افغانستان کي دامریکی دمتحده ایالاتودنظامی پرمختک (دافغانستان دمخالفو ډولو ) په اړه بیا د یو غټ دروغ سره مخامخ کیږی لکه همغسی چي دامریکی جګړه مار ډلی تیلی په عراق کی دخپل بریالیتوبونو په هکله په پرله پس بڼی سره دروغ ویلی، حال داچی په عراق کی د څو کلونو په جریان کی د یوسیا سی توافق په رنا کی خصومت اودجګړی لمن یو څه راټول شو اوبیا کله چی په نوموړی هیواد کی د سیا سی توازن تله نابرابره او بی پا نګه شو نو جګړه او خصومت بیا له سره پیل شو کوم چی تر اوسه پوری دوام لری ، اما په افغانستان کی له سره داسی یو ډول سیا سیی هلی ځلی دشخړی د له مینځه وړلو د پاره نه دی پلی شوی اودافغانستان خلک دهر کا ل په تیریدو سره دخصومتونو او دناقراریو اودشخړو په اورکی سرترپایه سوزي .

امریکا یا نو نن شپه بیاهم یوه بله غټ دروغ واورید ل اوهغه دا چی د ا مریکی د متحده ایالاتو پوځ دا فغا نا نو د پاره ډ یر ستر کارونه ترسره کړي ، نو دهمدی وینا په نظرکی نیولو سره تاسی به دهغو زیا تو ا فغا نا نو له جملی څخه کوم چی دافغا نستا ن داوسنی فاسد اوغیر قانونی دولت څخه دباندی دی یعنی په نوموړئ دولت کی کوم د ندی نه لری، پیدا به نکړئ چی د امریکی د ډ نډ وره چیا نو دغه څرګند ونی خپل ځا نته توهین دزدسالاری اوسپکا وی تعریف نکړي.

دامریکی متحده ایالات پخپل واک کی له خپلو سرتیرو او (۳۵) ملیارد دالرو په کلنی مصرف سره د متحده ایالاتو جنرالانو ، لوړپوړي افسرانو چی ډ یری د هغو ی په مستقیم اویا غیر مستقیم ډول سره د غټو امریکا یی شرکتونو سره اړه لری اودخپل تجملی ژوند خرڅه دهغو په پیسو سره سمبا لوی د پورتنی وینا سره په توافق کی خپل

سر ښوروی او ټینګار کوی چی مونږ دافغانستان دپوخ دپاره زیات کارونه تر سره کړي دی.

په یاد باید وسا تي چی دافغانستان دجمهوری ریاست په دری مخکینی له درغلیو څخه په ډکه ټولټاکنو کی امریکا په مستقیم ښی سره دخپل غولونکي سیاسیی ملاتړ څخه ډډه نه دی کړي او دهمدی خپل غولونکی مرستی په ترسره کولو سره داسی شرایط رامینځته کړی چي د هغه په ترڅ کی خپل سرتیری مړ یا ټپیان کړی او هغه هم دیو پارلمانی او د جمهوری ریا ست په داسی یو ټولټاکنوکی کوم چي درغلی اودخلکو درایو په غلا اوسرقت سره ترسره شوی اود همدی حقیقت په نظر کی نیولو سره په یاد راولی چی دافغانستان ددغه فاسد دولت زیا ته غړی یی جنګ سالاران اود مخدره موادو قاچاقبران دی چی دافغانستان پرخلکو باندی حکومت کوی . همدارنګه دوی هغه کسان دی چی دبشر دحقونو ځنی په سرغړونه اوپه جنګی جرمونو سره تورن کسان دی لکه همداشان چی اوس طالبان په همدی صفاتو باندی سره موصوف دي د یا دونی بل مطلب داچی داشرف غنی په اوسنی دولت اودهغه څخه مخکی دحامد کرزی دزمامداری په وخت کی دنارینه وو له خوا دقانون دنه مراعات کولو اودحکومتونو دنه پاملرنی له مخی نارینه وو ځانته دا حق اواجازه ورکړی چي پر ښځو باندی په زوره جنسی تیری تر سره کړی بی له دی چی ددولت دجزا دقانون په پلی کولو سره مجازات شي .

هرهغه څه چي اولسمشر دونالد ترومپ نن شپه دافغانستان دجګړی په اړه اعلانوی هغه پریکړی دی کوم چی هغه پخبل تویټرکی په ډیر تند ټکو یاده کړی لکه هغسی چی یوخرده فروش (دوکاندار) خپل نوی جنس یا محصول د تلویزیونی نما یش په ښه دمشتریانودراجلبولو دپاره اعلانوی اوداسی راښیی چی هغه ګني دجګړی اودجنګ ډیر مخالف دی نو دټولو پورتنیو څرګندونو څخه دی پایلی ته رسیږو چي په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو د پوځ پرمختګ له سره دروغ اوله حقیقت څخه لیری دی اومونږ ته دا اطمینان تر لاسه کیږی چي امریکا د بشر حقونه او دموکراتیک ارزښتونه اصلاً نه په نظر کی سا تلی اونه به هم وساتی بلکه دامریکی دغه ټول هلی ځلی دنظامی غټو شرکتونو دګټي دترلاسه کولو دپاره تر سره کیږی اما رنځ وناخوالی افغانانو ته ور په برخه کیږی .

***دلیکونکی په اړه څو کرښي:*** میتیوهو د حقیقت پیژند نی په مشورتی بورد کی یو پیژندل شوي څیره دي- هغه په کا ل (۲۰۰۹) کی کله چی **د «اوباما »** ددولت له خوا په افغانستان کي جګړه زیات ګرم او توده شو له خپل دندی څخه چي دامریکي په باندنی وزارت کی دندی ترسره کول استعفا ورکړ - همدارنګه هغه مخکی په با ند نی وزارت کی دعراق دهیواد په برخه کی دامریکی دسمندری تفنګدارانو په اړین مسولیت درلود - اوس هغه دبین المللی پا لیسی په مرکز کی یو لوړ پوړی غړی دي .

***--------------------------------------- په درنا وی «2017-08-23»***